# The civilizational study of Ameer Hamza Khan Shinwari's Ghazal

# د امیر حمزه خان شینواري د غزل تهذیبي مطالعه

**Muhammad Khalil (Shakir Orakzay )** [1]

**ABSTRACT:**

Civilization has great impact on the lives of nations. It has also influenced the art and literature of different societies. Pashtun literature has also been influenced by Pashtun civilization and culture. Ghazal being the deep and great source of civilizational representation of Pashtun society, has deep, creative picture of Pashtun civilization, embodied in its form and content.

Ameer Hamza Khan Shinwari has been unanimously considered as the Babaye Ghazal in Pashto literature. He has enriched Pashto Ghazal with different creative and civilizational diminutions. He has been considered as the bridge between the Pashto classics and moderns.

There can be no two views in the fact that the Ghazal of Ameer Hamza Khan Shinwari is the creative and detailed depiction of Pashtun civilization and Pashtun values. In this article, I have tried to present a detailed account of Pashtun civilization, embodied in the Ghazal of Ameer Hamza Khan Shinwari. I have explained and analyzed the concept and traits of Pashtun civilization, other social values and norms, presented in the Ghazal of Ameer Hamza Khan Shiwari. All these social values and norms have been critically discussed in the life of Ameer Hamza Khan Shinwari Ghazal.

**Keywords**: Civilizations, art and literature, Pashtun society, Pashto Ghazal, social values

## د تهذیب تعارف:

تهذیب او انسانیت په وسیع معنو کښې د یو څیز دوه نومونه دي. د تهذیب کلمه د انسان دپاره خاص ده. انسان او تهذیب سره لازم و ملزوم دي.

تهذیب د عربۍ کلمه ده چې ماده یې (ه۔ذ۔ب) ده چې لغوي معنا یې د ونې څانګې پرې کول دي. مالیار چې په باغ کښې د ونې نه غیر ضروري څانګې پرې کړي نو یو خو د ونې ښکلا

[1] SST GHS Gada khil, Bannu Road Kohat

ورسره سيوا شي او دويم د ميوه دارې ونې د ميوې د نيولو صلاحيت هم سيوا شي. د دې په مقابل کښې د ځنګلي ونو د ښکلا نه علاوه د ميوې د نيولو صلاحيت او معيار هم کمزورے وي. او په اصطلاح کښې د ښائسته خوي خصلت دپاره استعمالېږي. يعني هر هغه کار چې ورسره په ټولنه کښې ښکلا راځي تهذيب بللے شي.

"تہذیب اور ہذب کی اصل درختوں کی کانٹ چھانٹ کرنا تاکہ ان کے حسن اور نشوونما میں اضافہ ہو۔۔۔۔ تہذیب کی اصل حقیقت کسی چیز کی ناخوشگواریوں کو دور کرنا اور کانٹ چھانٹ کر ایک خاص سانچہ میں ڈھالنا ہے[1]۔"

ترجمه: (د تهذيب او هذب په اصل کښې د ونو د ښاخونو پرېکونې ته وايي، دې سره د ونو په ښائست او په وده کښې اضافه کېږي، د تهذيب مقصد د يو څيز په ډول و سينګار کښې اضافه کول وي.)

او مصباح اللغات او المنجد هم د تهذيب معنا د شاخ تراشی کوي، ونې نه چې غېر ضروري څانګې پرې کړې شي نو د ونې په ښائست کښې ورسره اضافه کېږي

د اردو مشهور لغت فېروز اللغات د تهذيب معنا داسې کوي:

تہذیب: شائستگی، خوش اخلاقی[2] ۔

د پښتو اکېډيمي لغت د تهذيب څۀ داسې معنا کوي:

(۱) د ښو اخلاقو نه کار اخستل، سړيتوب، انسانيت. (۲) د معاشرې د ادابو او د رسم و رواج پابندي[3] .

د اردو او پښتو دواړه ډکشنرۍ نزدې نزدې يو رنګ معنا کوي. تهذيب د يوې ټولنې د رسم و رواج مطابق د ژوند تېرولو نوم دے. سيد خېر محمد عارف ليکي:

"تهذيب د ښو اخلاقو ، د ښو معاشرتي معاملاتو، د تمدن، کلچر او د هرډول تمکين، سر لوړي، قدرو منزلت اجتماعي نوم دے[4] ،"

قېصر اپريدے د تهذيب تعريف څۀ داسې کوي:

"تهذيب د انسان د شعوري عزم او عمل د يو سلسله وار ارتقايي سفر نوم دے[5]"

د اردو نامتو ليکوال سبطِ حسن د تهذيب تعارف داسې کوي:

"کسی معاشرے کی بامقصد تخلیقات اور سماجی اقدار کے نظام کو تہذیب کہتے ہیں[6]"

ترجمه: (تهذيب د يوې ټولنې د مقصدي تخليقاتو او ټولنيزو قدرونو د نظام نوم دے.)
تهذيب د انساني ژوند سره سم پېل شوے دے ولې چې په هر دور کښې انسان د خپل وس او پوهې مطابق د خپل ژوند د ښۀ کولو دپاره شعوري کوشش کړے دے. تر دې چې کله انسان په غارونو کښې اوسېدو نو هغه وخت هم تهذيب موجود وۀ. غار کنستل پخپله د انسان په مهذب کېدو لوے دليل دے. او بيا چې انسان اور دريافت کړو نو يو قدم نور هم مهذب شو. خو پوهان په دې نظر دي چې انسان په باقاعده توګه هغه وخت د تهذيب په درشل قدم کېښودو چې دے د خپل خوراک د ځنګلي ميوو او ځنګلي ځناورو د ښکار په ځاے ځان له د خوراک پېدا کولو دپاره کرکيله پېل کړه. د تهذيب دپاره څۀ خاص زمانه يا جغرافيه يا قوميت شرط نۀ دے بلکې دا د کرونده ګرو د جونګړو نه شروع کېږي خو وده بيا په ښارونو کښې کوي.د يو تهذيب د تشکيل دپاره طبعي حالات، الات و اوزار، د فکرو احساس نظام او ټولنيز قدرونه ضروري وي او د تهذيب تشکيل دپاره د زندګۍ تصور، د زندګۍ نصب العين ، عقايد و افکار، د وګړو تربيت او ټولنيز نظام هم ضروري وي.
هر کله چې د يو تهذيب ذکر کېږي نو د ورسره د انساني ټولنې ذکر هم کېږي ولې انساني ټولنه او تهذيب سره لازم و ملزوم دي. انسان نه بغېر تهذيب نشته او د تهذيب نه بغېر انسان، انسان نۀ پاتې کېږي. د سبطِ حسن د وېنا مطابق يوه ټولنه هم د تهذيب نه خالي نۀ ده[7]. د انساني تاريخ مطالعه که وکړې شي نو معلومه به شي چې د انساني تاريخ مطالعه په اصل کښې د انساني تهذيبونو مطالعه ده.ولې چې انساني تاريخ د تهذيبونو تاريخ دے . د تهذيبونو قصه په نسلونو مشتمله وي کومه چې قديم انسان نه راواخله تر دې دمه روانه ده. په اصل کښې تهذيب د انسان پېژندګلو ده[8]. د يو تهذيب د مطالعې په وخت دا په خيال کښې ساتلے شي چې دغه تهذيب د زمکې په کومه ټکړه را اوچت شوے دے او کومو کومو حالاتو کښې يې وده کړې ده او بيا څنګه د زوال سره مخ شوے دے. او د دې تهذيب سره کوم خلک وابسته وو هغوي کوم الات و اوزار کارول او د ژوند د نقش و نګار دپاره يې کوم تخليقات مخې ته راوړي وو؟ د دوي د سوچ نظام څنګه ؤ؟ او د ژوند د اسانولو دپاره يې کومې لارې اختيار کړې وې؟ د ژوند د تېرولو معيار يې څۀ ؤ؟ او کوم ټولنيز اقدار يې ژوند دپاره غوره کړي وو؟ د دې سوالونو د ځواب موندلو نه وروسته په اسانه دا اندازه لګيدے شي چې تهذيب په تشکيل کښې کوم عناصر تر ټولو مهم کردار لوبوي:

"دنیا کی ہر نئی پرانی تہذیب کی تشکیل چار عناصر ترکیبی سے مل کر ہوتی ہے۔ (۱) طبّی حالات (۲)الات واوزار (۳)نظامِ فکر واحساس (۴) سماجی اقدار۔[9]"

ترجمه: (د نړۍ هر زوړ او نوے تهذیب د څلورو عناصرو نه جوړېږي. ۱ طبعي حالات، ۲ الات و اوزار، ۳ د فکر و احساس نظام، ۴ ټولنیز قدرونه.)

خو پروفېسر مفتي محمد احمد د یو تهذیب د تشکیل دپاره پینځۀ عناصر ضروري ګڼي:

"ہر تہذیب کے کچھ بنیادی عناصر ہوتے ہیں جن سے وہ تہذیب تشکیل پاتی ہے اور دنیا کی تمام تہذیبوں میں یہ بنیادی عناصر پائے جاتے ہیں۔ (۱) دنیوی زندگی کا تصور (۲) زندگی کا نصب العین (۳)اساسی عقائد وافکار (۴) تربیتِ افراد (۵) نظامِ اجتماعی۔[10]"

ترجمه: (د هر تهذیب خپل بنیادي عناصر وي د کوم نه چې یو تهذیب وجود مومي او د دنیا په ټولو تهذیبونو کښې دغه عناصر خامخا شتون لري. ۱ د دنیاوي زندګۍ تصور، ۲ د زندګي مقصد، ۳ بنیادي عقیدې او افکار، ۴د وګړي تربیت، ۵ اجتماعي نظام.)

د دې دواړو ښاغلیو په نظر کښې فقط د الفاظو فرق دے نور دواړو نظر نزدې نزدې یو شان دے.د یو تهذیب په تشکیل کښې بنیادي نقطه اجتماعي فکرو احساس دے. هم دغه اجتماعي سوچ د ټولنیزو اقدار بنیاد جوړېږي. ټولنه د افرادو د اجتماع نه وجود مومي. او تر څو پورې چې په یوه ټولنه کښې د فرد د تربیت پوره پوره بندوبست نۀ وي نو یوه مهذبه ټولنه په وجود کښې نۀ شي راتلې. هر کله چې د یو فرد په ټولنه کښې صحیح تربیت وشي نو بیا دا د ټولنې یو باوقاره مهذب فرد جوړ شي کوم چې د تهذیب اصل مقصد دے.

هر کله چې په ټولنه کښې د فرد د تربیت دپاره اجتماعي کوششونه کېږي نو بیا بامقصده تخلیقات هم مخې ته راځي. ولې چې په دې نتیجه کښې یو اجتماعي سوچ مخې ته راځي کوم سره چې د ټولنې د ژوند معیار مخ په بره ځي او ټولنه د تهذیب شکل خپلوي. تهذیب تش د ژوند د ډول سینګار، لوښي، کور، سامان یا د نورو اوزارو نامه نۀ ده چې د یوې ټولنې د پېژندګلو سبب ګرځي بلکې دې دپاره چې کوم څیز ضرروي دے هغه د فکر و احساس هغه نظام دے کوم چې د فرد او ټولنې د معیار لوړولو ته لارې هواروي. تهذیب د وګړو د اجتماعي فکر و احساس د نظام نامه ده.ولې په یو ټولنه کښې د وګړو اجتماعي سوچ اصل کښې د ټولنې د پرمختګ سبب جوړېږي.

"ہر تہذیب کا ایک مخصوص نظام فکر واحساس ہوتا ہے۔ یہ نظام اس رشتے کی نوعیت کو ظاہر کرتا ہے جو معاشرے کے افراد اور موجودات میں استوار ہوتا ہے[11]۔"

ترجمه: ((د هر تهذيب د فکر او احساس خپل يو مخصوص نظام وي، دغه نظام د ټولنې او د وګړو ترمينځ د يو مضبوط تړون غماز وي.))

د هرې ټولنې د خلکو د سوچ معيار د بلې ټولنې د خلکو د سوچ نه بدل هم وي او کم و زيات هم وي. مونږ په مجوده وخت کښې چې د دنيا مختلفوقامونو ته نظر کوو نو سوچ و فکر و احساس کښې به لوے فرق محسوس کړو. نو هم دغه وجه ده چې د دنيا په هر تهذيب کښې څۀ نه څۀ فرق ضرور وي. څومره پورې چې د يو قوم د سوچ و عمل دا نظام مضبوط وي نو هم دومره به د هغه تهذيب عمر ډېر وي. د يو تهذيب په عروج و زوال کښې هم دغه د فکرو احساس نظام لوے لاس لري.

"کسی تہذیب کے عروج وزوال کا انحصار اسی بات پر ہوتا ہے کہ تہذیب کے برتنے والوں نے اپنی جسمانی اور ذہنی توانائی سے کس حد تک کام لیا ہے۔ اس توانائی میں اپنی توانائی افرین تخلیقات سے کتنا اضافہ کیا ہے[12]۔"

ترجمه: ((د هر تهذيب د عروج و زوال دار و مدار په دې وي چې وګړو تر کومه حده د خپل جسم او ذهن نه کار اخستے دے.))

په هر تهذيب کښې وخت په وخت بدلون هم راځي. دغه بدلون په اصل کښې د سوچ و فکر د نظام بدلون دے. انسان د ارتقائي عمل نه تېرېږي. هم دغه ارتقائي عمل د انسان په سوچ و فکر کښې بدلون سبب جوړېږي.

"ہر تہذیب کے نظامِ فکر واحساس میں وقتاً فوقتاً تبدیلیاں ہوتی رہتی ہیں اور ان تبدیلیوں کا باعث سماجی حالات میں تغیرات ہیں۔ لیکن سماجی حالات اس وقت تک نہیں بدلتے جب تک خود معاشرے کے اندر کوئی ایسی سماجی قوت نہ ابھرے جو ان حالات کی نفی کرتی ہو[13]۔"

ترجمه: ((د هر تهذيب د فکر و احساس په نظام کښې وخت سره سره بدلون راځي چې سبب يې د ټولنيزو حالاتو کښې تغير وي. خو دغه ټولنيز حالات تر هغه نۀ بدلېږي تر څو چې په ټولنه کښې دننه داسې قوت مخې ته نۀ وي راغلے چې د دغو حالاتو نه انکار وکړي.))

اوس که مونږ پخپل پښتني تهذیب نظر واچوو نو نن نه نیمه پیړۍ وړاندې د جینکو تعلیم سخت مخالفت کیدو او بیا د زناؤ د نوکرۍ خو سوچ هم نۀ کیدوخو اوس په پښتنه ټولنه کښې نۀ صرف د جینکو تعلیم رواج موندلے دے بلکې ډیرې جینکۍ په ښو ښو عهدو نوکرۍ هم کوي. دغه بدلون د سوچ و فکر کښې د راغلي بدلون ثمره ده.پخوا به دا متل کیدو چې ‹د خرې خدا ے څټه واخله او د ښځې خدا ے ګټه› خو اوس دا عام وئیل کېږي چې ښځه او سړے د ژوند د ګاډي دوه پهیې دي.

د حمزه بابا غزل او تهذیب:

د پښتو که ټوله شاعري په ژور نظر وکتلے شي نو معلومه به شي چې پښتنو شاعرانو په شعوري توګه د خپل پښتني تهذیب عکاسي کړې ده په خصوصیت سره زمونږ کلاسیکي ادب خو ببخي د خپل تهذیب ائینه دار دے. د خوشحال خان خټک نه وړاندې د روښاني مکتب په شاعرانو کښې هم د خپل تهذیب څۀ نه څۀ ځرک لیدلے کېږي. خوشحال بابا او وروستو د کلاسیکي دور ټولو شاعرانو د خپلې شاعري محور مذهب، اخلاقیات، کلتور او ټولنیز اقدار ګرځولے دے کوم چې د تر ډیره حده تهذیب سره علاقه لري. د خوشحال بابا کلام زمونږ لویه تهذیبي سرمایه ده او په پښتو ژبه او ادب یې لوے احسان دا وکړو چې پښتو یې د نورو ژبو سره سیاله کړه. او د رحمان بابا ټوله شاعري د اخلاقیاتو درس ورکوي د کوم تعلق که بلا واسطه نۀ وي نو بالواسطه تهذیب سره خامخا شته.عبدالحمید مومند، علي خان او کاظم خان شیدا هم انسان ته د مهذب اوسیدو درس ورکوي.

د جدید دور پښتو ادب هم د خپل کلاسیک پشان د پښتني تهذیب د روایت او پرمختګ علمبردار او ائینه دار دے. د جدید دور ټول نمائنده شاعران د خپل پښتني تهذیب په وده او پرمختګ کښې د خپل فکر او قلم زور ښکاره کړے دے خو رښتیا او ښکاره خبره دا ده چې امیر حمزه خان شینواري د پښتون شناخت د خپل شعر په زور راوځلولو. که یو طرف ته د پښتو غزل د هیئت په لحاظ تازه او شګفته شو نو بل خوا د ماهیت په حواله هم ډیر وړاندې لاړو. دا ټول د حمزه بابا د فکر او قلم برکت وۀ. تر څو پورې چې د د جدید غزل کښې د پښتني تهذیب د نمائندګۍ خبره ده نو بغیر د مبالغې نه دا حق حمزه بابا کمت حقه ادا کړے دے. په بنیادي توګه حمزه بابا د تصوف او عرفان د لارې وګړے وۀ خو اکثر پښتانۀ دانشور په دې متفق دي چې حمزه بابا په تصوف کښې هم خپل پښتون شناخت

ورکولو ته نۀ دے ورکړے بلکې د هغۀ د کامل انسان تصور هم د پښتون مسلمان تصور وۀ.
په دې حواله ډاکټر راج ولي شاه خټک لیکلي دي:
"په شعر او ادب کښې خوشحال بابا د قامي تشخص رده کښېښوده، نو پښتنو د خپل فني تشخص په لور یون شروع کړو او بیا دا اعزاز او امتیاز شاید د ستر حمزه شینواري په برخه لیکلے ؤ چې په شلمه صدۍ کښې دې دنیا ته د خپل شعر په فني کمال دا وښایي چې پښتو کښې نۀ د اظهار ګراني شته او نۀ پښتون فکر د چا نه کم یا وروستو دے. داسې د پښتني جمال که پوره کربښې د فن په ذریعه راښکلې شي نو دا ښائست د دنیا په ښائستونو کښې د ځانګړو خصوصیاتو حامل دے او دا د پښتون انفرادیت هم دے او سترګې یې د امتیاز په رنجو تورې هم دي[14]."
په جدید دور کښې امیر حمزه خان شینواري یو داسې شاعر دے چې پښتو شاعري یې نوو نوو رجحاناتو سره اشنا کړه او پښتو شاعري او خصوصاً غزل ته یې هغه سرۀ ورکړل چې د راتلونکو پښتنو زلمو شاعرانو د غزل په اننګو کښې وځلېدل.
حمزه بابا هر څو که په بنیادي توګه یو صوفي شاعر وۀ او صوفي شاعران په عالمګیریت (انسانیت) یقین لري او قومیت د دوي په نظر کښې څۀ خاص اهمیت نۀ لري. حمزه بابا شاید چې په اول ځل په تصوف کښې دا تصرف وکړو چې قومیت یې وردننه کړو.

چې بې تا چا ته تېټ نۀ شي ننګیالے زما ژوندون کړه
زما زړۀ دې مسلمان وي تفکر مې د پښتون کړه[15]

حمزه بابا په دې ډېر ښۀ پوهېدو چې یو تهذیب د یو قام پېژندګلو وي او یو قام کله هم دا نۀ خوښوي چې خپله پېژندګلو وبائیلي نو ځکه هغوي پخپله شاعرۍ کښې د تصوف سره سره په تهذیب هم ډېر زور راوړے دے. هغوي په دې هم زور راوړے دے چې تهذیب د انسان ښکلا ده او ښکلا ژوند دے. او ژوندي قامونه پخپل تهذیب ویاړ کوي. او چې کوم قام خپل تهذیب ته شا کړي نو هغه بیا په ژوندي قامونو کښې د شاملېدو حق نۀ لري:

خپلې ژبې خپل تهذیب وته چې شا کړي
ملګرتیا له هغه قامه ژوندون نۀ کا[16]

هرکله چې پښتانۀ د جدید تعلیم سره اشنا شول نو دوي په غېر ضروري توګه مغربي تعلیم په لور مایل شو نو په دې هم حمزه بابا خاموش پاتې نۀ شو او پښتنو زلمو ته يې غږ وکړو چې د عصري تعلیم دا مقصد هرګز نۀ دے چې تاسو د خپل تهذیب نه هم لاس ووینځې:

پښتونه مسلمانه د یورپ په رنګ کښې رنګه
تهذیب دې مغربي شو ذهنیت دې بدل نۀ شو
کارغۀ چې اختیار د زرکې تلۀ کړۀ خپل يې هېر شو
تابع شوې د مغرب ولې غربت دې بدل نۀ شو [17]

اوس که مونږ په دې موجوده پرائیویټ تعلیمي ادارو نظر واچوو نو هغوي هم د جدید تعلیم (انګریزي تعلیم) تر څنګ د مغربي تهذیب تبلیغ کوي چې د دې خاورې خپل تهذیب سره لوے زیاتے دے.ولې چې دوي خپلو ادارو دپاره چې کوم یونیفارم ټاکلے وي هغه هم د مغربي تهذیب ائینه دار وي او دویم ظلم دا کوي چې دوي په پښتو د ښودلو خو څۀ چې په وئیلو هم بندېز لګولے وي چې د ذهني غلامۍ نه سیوا نور هېڅ نۀ دي. ګني د یونیفارم د زده کړې سره څۀ تعلق دے خو اصل خبره دا ده چې دوي ته خپل تهذیب او ثقافت د نورو په مقابله کښې سپک ښکاري. حمزه بابا دې ټول صورتحال ته ډېر په شاعرانه انداز کښې اشاره کړې ده.

دا څنګه بې وفا شوې پښتنې پس له وعدې
پېغور هم ټیټې نۀ کړلې انګرېزې سترګې ستا [18]

وعده پوره کول د ایمان نخښه ده او پېغور په پښتنه ټولنه کښې یو داسې خراب عادت دے چې ښتانۀ ورته ښېخي د ټینګېدو نۀ دي. داسې ډېر واقعات رونما شوي دي چې پښتنو پرې یو بل وژلي دي خو پېغور يې نۀ دے زغملے. دلته حمزه بابا د دغو دوو اقدارو په ترخ کښې مغربي تهذیب ته ګوته نیولې ده، په ظاهره خو دا یو روماني غوندې شعر دے خو په باطن کښې د دوو تهذیبونو موازنه کوي کوم چې پخپل وسیع مفهوم کښې د تهذیبونو د تصادم سبب جوړېږي.

په پښتني تهذیب کښې شرم و حیا ته لوے اهمیت حاصل دے او بیا پښتنو پېغلو جینکو دپاره خو دا لازم ګڼلے شي، حمزه بابا د محبوب دپاره هم حیا لازمي ګڼي ولې چې هغه د ظاهري حسن په ځاے د باطني حسن قایل دے:

چـــــې بـــــد ګــــو او بـــــې حیـــــا وي
نـــــۀ یـــــې شـــــونډې نـــــۀ رخســـــار ښـــــۀ[19]

حیا د پښتنو جینکو پسول دے، پښتنې چې پېغلې شي نو خپل مخونه پټ ساتي ولې چې دا پښتني تهذیب اهم قدر دے.

پـــــټ دي محبـــــت لـــــره کامـــــل چـــــې شـــــي
پېغلـــــه جینـــــۍ خلـــــک پـــــه کالـــــۀ ســـــاتي[20]

پښتنې نۀ صرف خپل مخونه د حیا له کبله پټ ساتي بلکې پېغلې خو بیا بهر هم نۀ ووځي. هر څو که اوس هغه پخوا وخت نۀ دے پاتې خو بیا هم د پښتنو اکثریت اوس هم دا سې دے چې نۀ صرف خپل مخونه پټ ساتي بلکې بې له ضروته د کور نه هم بهر نۀ ووځي.

مینـــــه شـــــوه ځوانـــــه ســـــاتم یـــــې پټـــــه
جـــــل چـــــې شـــــي پېغلـــــه خونـــــد پـــــه کالـــــۀ کـــــا[21]

هر تهذیب په وسیع معنو کښې د یو مذهب سره علاقه لري، تهذیب او مذهب دواړه په اخلاقیاتو او په انساني ښیګړې زور ورکوي.نوے کهول چې د مغربي تهذیب یلغار زیرِ اثر دي نو حمزه بابا ورته داسې مخاطب شوے دے:

نـــــوي کهـــــول دپـــــاره لاې جـــــوړول غـــــواړي
ملیـــــت ســـــره مـــــذهب ګـــــډول غـــــواړي
کرونـــــده د اور پکـــــار ده ادیبـــــانو
ولـــــې څـــــۀ اور اورکـــــي هـــــم کـــــرل غـــــواړي[22]

د جدید عصري تعلیم سره که یو خوا د پښتنو د نورو قامونو سره واسطه پرېوته نو بل خوا یې د علم و دانش لار هم ونیوله. حمزه بابا هم د عصري جدید تعلیم سره چې په پښتني تهذیب کښې کوم بدلون راغې نو هغې ته څۀ داسې اشاره کوي:

ائینـــــــه د ننننـــــــــي تهـــــــــذیب دې ښـــــــه ده
خـــــو جـــــوهر پـــــرې د ســـــاده پـــــرون پکـــــار دے[23]

حمزه بابا چې د ننني تهذیب تذکره کوي نو هغې نه څرګندېږي چې په دې تهذیب کښې د ماضي خوارۀ ګډوډ پکار دي. په نن دور کښې ماده پرستي خپل عروج ته رسېدلې ده . په هر څۀ کښې تصنع ده، خود غرضي او بناوټ دے. هغه د انسان د روحاني پرېشانۍ سبب جوړ شوے دے. انسان تش د غوښې او هډوکو نه جوړ جاندار نۀ دے بلکې انسان جسماني راحت او سکون سره سره روحاني او قلبي سکون هم غواړي چې د هغې د ماده پرستي او مفاد پرستي په دې دور کښې هېڅ علاج نشته نو ځکه حمزه بابا انسان ته د ماضي هغه اخلاص، مینه او ورورلۍ هم یادوي چې په کلي کښې به د یو سړي غم د ټول کلي شریک غم وۀ او د یو کور ښادي به د ټول کلي ښادي وه. نو ځکه حمزه بابا په شعوري توګه هڅه کوي چې د ننني تهذیب ټول ښۀ او ګټور اقدار خپل کړي خو هغه د ماضي مثبت او معني خېز روایات، اقدار هم په هېڅ صورت کښې ترک نۀ کړے شي. هغوي د ارتقا لار نیول نۀ غواړي خو چې پښتنو سره خپل کوم په زړۀ پورې اقدار دي هغې ته شا کول هم بلکل د عقلیت ثبوت نۀ دے.

چـــې رښـــا یـــې پـــه خپـــره کښـــې د اســـلام د تهـــذیب نـــۀ وي
زمـــا خـــۀ پـــرې کـــه دا وران شـــي، بـــل ودان شـــي جهـــان نـــوے[24]

په پښتني تهذیب کښې د مشر او کشر ډېر لوے لحاظ ساتلے شي. تر څو چې حجره په اصل شکل کښې موجوده وه یا که اوس هم چرته موجوده ده نو دا داسې یوه کارامد اداره ده چې نبغ په نبغ پکښې د کشرانو تربیت کېدو چې څرنګه به یو کشر د سپین ږیرو او مشرانو قدر او احترام کوي. داسې به ولې نۀ وي چې حجره یوه تربیتي اداره وه او د دې استاذ د هغه ټول سپین ږیري او مشران وو چې د مودو مودو تجربو او مشاهدو نه راتېر شوي وو نو د هغوي مجودګي کښې به د کشرانو تربیت په شعوري یا غېر شعوري توګه کېدو.

نمـــــر چـــــې څرګنـــــد وي د ذرو زړونـــــه روښـــــانه لـــــري
تـــل پـــــه بخشـــش کښـــې کشـــرانو تـــه د ســـتر مخـــه ده[25]

د حجرې او مېلمه په حقله د حمزه بابا دا شعر ډېر خوندور دے

مـــــه ګرځـــــوه ســـــترګې لـــــه مېلمـــــه نظـــــر
ګـــــوره حجـــــرې ببرتـــــه پښـــــتانهٔ ســـــاتي[26]

د حمزه بابا په نظر کښې پښتون تهذیب و ثقافت یو مکملِ ضابطه حیات دے. نو ځکه هغهٔ ته د پښتون په شکل کښې یو مکمل انسان په نظر راځي. د پښتون حسن ورته د بل هر حسن نه بلا و برتر ښکاري او د پښتنو شډل بدل حسن او سادګي ورته د حسن اعلي معیار لیدے شي.

زهٔ برنـــــدې ســـــترګې او شـــــډله ځـــــواني حســـــن ګـــــڼم
نـــهٔ نـــرۍ مـــلا لکـــه وپښـــتهٔ نـــهٔ ټیټـــې مـــړې ســـترګې[27]

مېلمه پالنه په هر تهذیب او هره ټولنه کښې په مختلفو شکلونو کښې شتون لري خو په پښتنه ټولنه کښې دې ته ډېر په درنه سترګه کتلے شي او پښتو سره یې بلکل پېوست ګڼي، څوک چې د چا مېلمه شي او د کوربه له خوا پوره خیال ونهٔ ساتلے نو بیا اکثر وئیلے شي چې فلانے د پښتو نه نهٔ دے خبر یا بې پښتو سړے دے. حمزه بابا پخپله شاعرۍ کښې د پښتنو دې قدر ته ډېر اهمیت ورکړے دے. په پښتنه ټولنه کښې داسې مثالونه هم شته چې دښمن یې مېلمه شوے دے نو مېلستیا یې ورکړې ده. د بل کور ته ورتلل اکثر په دوو صورتونو کښې کېږي چې یو څوک د چار کره مېلمه شي یا په څهٔ موقع ترې خطا شوې وي او دې پرې پښېمانه وي او غواړي چې بخښنه وغواړي. او د پښتني تهذیب دا لوے شان دے چې په کور راغلے ملامته خامخا معاف کوي. دې رسم ته ننواتې وایي:

ســـــتا د ترخـــــو بـــــه دا عـــــلاج وي چـــــې پـــــه کـــــور درشـــــم
ننـــــګ د پښـــــتو بـــــه دې مېلمـــــه تـــــه کـــــړي خـــــوږې ســـــترګې[28]

پښتانهٔ په مکمل ډول لا پورې یو تمدني ژوند سره اشنا نهٔ دي او دا پښتنو مجموعي مزاج سره سمون نهٔ خوري. شاید داسې وخت هم راشي چې پښتانهٔ په مکمله توګه تمدن خپل کړي. خو في الحال د دوي ژوند کلیوال دے او که څوک په ښار کښې هم اوسي خو خپل

کليوال ژوند رنګونه تر خپله وسه د برقرار ساتي. خو بابا ته په تمدني ژوند کښې څۀ په نظر ورغلي دي نو داسې يې وئيلي دي:

تمـــــدن کښـــــې يــــو پـــــه بـــــل شـــــته بلوســـــېدل
د هـــــــر شـــــــي ردِ عمـــــــل شـــــــي رســـــېدل
لا حاصــــــــله بلوســــــېدل پرېـــــــږده شــــــينواريه
کــــــه دې خـــــوښ وي پـــــه نـــــرۍ کښـــــې اوســــېدل[29]

کفايت شعاري د کلهم انسانيت د ښيګړې څيز دے. زمونږ مذهب هم د دې امر کوي. حمزه بابا د اسلامي شعارو او پښتني اقدارو لوے داعي وۀ. حمزه بابا په بنيادي توګه يو صوفي شاعر وۀ خو عملاً هغه زيړ پښتون مسلمان وۀ. د کفايت شعاري ذکر سره هغه د انساني د تصنع نه ډک ژوند ته هم ګوته نيسي او وايي:

هغــــــــه ګــــــــل بـــــــه کاغـــــــذي د تمـــــــدن وي
چـــــې پکښـــــې د کفايـــــــت نـــــــۀ وي نکهـــــــت[30]

حمزه بابا د پښتني تهذيب د ټولو اقدارو په ډېره موثره طريقه ښودنه کړې ده، د يو صوفي شاعر باوجود يې هم په پښتني تهذيب کښې د ژوند ټول خوا ړۀ لټولي او موندلي دي. او بيا يې په نورو هم ويشلي دي:

تصـــــوف راتـــــه تهـــــذيب د نفـــــس عطـــــا کـــــړ
کــــه مــــې زهــــر چــــا تــــه ورکــــړ هغــــه قنــــد شــــو[31]

حمزه بابا په عملي توګه هم د پښتني تهذيب په ټولو اقدارو په کلکه کاربند وۀ، او دا يې ځان دپاره د غرور او شان و شوکت نه کم نۀ ګڼلو او دا شعر يې د پښتني شملې باندې د وياړ څومره لوے دليل دے:

زۀ پــــه پښـــــتني شـــــمله بـــــه ولــــې غــــرور نــــۀ کــــړم
هغـــــه ســـــروې قـــــدې چـــــې پخپـــــل حســـــن غـــــرور کـــــا[32]

د احسان بدله په هره ټولنه او تهذيب کښې د احسان نه سيوا نور څۀ نشي کيدے. اسلام هم د احسان په بدله کښې احسان ذکر کوي، خو د احسان په بدل کښې احسان طريقې بدلې کيدے شي خو مطلب هم دغه دے چې نيکي اوبۀ هم نۀ وړي. خو حمزه بابا چې هره موضوع

په غزل کښې وړاندې کوي نو د تغزل لمن د لاسه نۀ پرېږدي، هم د دغه د احسان او مننې انداز يې څۀ ځومره په زړۀ راښکونکي پيرايه کښې وړاندې کړے دے:

تـــۀ چـــې راغلـــې کـــوم دې خـــوښ دے چـــې يـــې وکـــړم
تشـــکر خـــو ځـــوک پـــه زړۀ کـــا ځـــوک پـــه خولـــۀ کـــا[33]

لنډه دا چې امير حمزه خان شينواري د پښتني او اسلامي تهذيب ستر مبلغ وۀ. او ورته په پښتون مسلمان په صورت کښې د نړۍ عظيم انسان په نظر راتلو نو هم دغه وجه وه چې د تصوف او عرفان د لارې دې صوفي شاعر ته د خپل پښتني تهذيب رسا ادراک وۀ او دا ورته عين اسلام او انسانيت ښکارېدۀ.

تـــۀ کـــه ښـــۀ پښـــتون شـــوې نـــو انســـان بـــه شـــې
بيـــا کـــه ښـــۀ انســـان شـــوې مســـلمان بـــه شـــې[34]

امير حمزه خان شينوري صرف دا نه چې هغه د غزل لوے شاعر دے او په غزل کښې يې نوې نوې تجربې کړې دي او د پوهانو د وينا مطابق د قديم او جديد غزل تر مېنځ يو پل دے او يا اميرالمتغزلين دے چې په عرف عام کښې د غزل بابا دے بلکې هغه د پښتون تهذيب ډېر لوے مبلغ مشرح دے. د حمزه بابا د غزل فني اړخ ډېر ستائيلے شوے دے او د هغوي فکر اړخ ته د فني اړخ په مقابله کښې کم نظر شوے دے. په دې کښې شک نشته چې د هغه د جديد غزل د تر ټولو لوے شاعر دے خو هغه د پښتني تهذيب يو داسې مبلغ او مشرح دے چې د فکر او قلم ټول زور يې په دې راوړے دے چې پښتون يو مهذب قام دے نو ځکه هغوي ته د مهذب پښتون په شکل کښې يو کامل انسان ښکاريدو.

# References:

[1] Hafiz Muhammad Sajjad, Dr, Islami o Maghrebi tahzib o afkar tarikhi tanazur men, Allama Iqbal Open University Islamabad, ishaate awal 2018 AD, page# 6
[2] Feroz ulughat Urdu jaded, Ferooz sons private limited, lahoor, da ishaat kal na lari.
[3] Pashto Academy Lughat, tarteeb aw samawana: Dr, Nasrullah Jan Wazir, Pashto Academy University of Peshawar, 2019 AD.
[4] Arif, Syed Khair Muhammad, Sareeza, Tahzib Serana aw kara katana, Pashto Academy balochistan, Quetta, 2017 AD, page# 2
[5] Qaisar Apreday, Tahzib Serana aw kara katana, Pashto Academy balochistan, Quetta, 2017 AD, Page# 6
[6] Sebte Hassan, Pakistan men tahzib ka irteqa, Maqsood press Karachi, Edition 13, 2017 AD, Page# 17.
[7] Ham dagha, Page# 21
[8] Huntingtong, Samuel P, tahzibon ka tasadum, tarjuma: M. Ahsan Butt, Aftab Alam press Lahore, May 2002 AD, Page# 58.
[9] Sebte Hassan, Pakistan men tahzib ka irteqa, Page# 25.
[10] Muhammed Ahmad, Mufti, professor, Taarufe Tahzib Maghrib awr jaded Falsafa, Edition 2, 2014 AD, Page# 39.
[11] Sebte Hassan, Pakistan men tahzib ka irteqa, Page# 34.
[12] Ham dagha, Page# 31.
[13] Ham dagha, Page#38
[14] Khattak, Rajwali Shah, Dr, sareeza: da Hamza Shenwari Diwan, Muratib; M. Asif Samim, University book agency, Peshawar, edition 2, 2013 AD, Page# 63
[15] Shenwari, Ameer Hamza Khan, Ghazawane, Edition 14, jadoon printing press, Peshawar, Page# 190.
[16] Ham dagha, Page# 330.
[17] Ham dagha, Page# 349.
[18] da Hamza Shenwari Diwan, Muratib; M. Asif Samim, Page#84.
[19] Shenwari, Ameer Hamza Khan, Ghazawane, Page# 71
[20] Da Hamza Shenwari Diwan, Muratib; M. Asif Samim, Page# 361.
[21] Shenwari, Ameer Hamza Khan, Ghazawane, Page# 7.
[22] Ham dagha, Page# 360.
[23] Ham dagha, Page# 125.
[24] Da Hamza Shenwari Diwan, Muratib; M. Asif Samim, Page# 594
[25] Ham dagha, Page# 83.
[26] Ham dagha, Page# 361.

[27] Shenwari, Ameer Hamza Khan, Ghazawane, Page# 177
[28] Ham dagha, Page# 177.
[29] Ham dagha, Page# 351.
[30] Ham dagha, Page# 213.
[31] Ham dagha, Page# 217.
[32] Da Hamza Shenwari Diwan, Muratib; M. Asif Samim, Page# 87.
[33] Ham dagha, Page# 91.
[34] Hm dagha, Page# 500.